

# زموږ دهيواد د خوږژبې او پيژندل شوې وياندې آغلې سهيلا اصغري وردک (حسرت نظيمي) سره ادبي مرکه

مرکه کوونکی: انجنير عبدالقادر مسعود

د نړۍ په پرمختللو هیوادونو کې د ښځې تاریخي نقش، انساني ارزښت او مقام ته ځانګړې پاملرنه شوې ده. په داسې ټولنو کې د یوې ښځې شخصیت د علم، لیاقت، استعداد، وړتیا، پاکي، صداقت، لوړو اخلاقو او اوصافو په وسیله د سیاسي، اجتماعي، ادبي او فرهنګي پوهې پر اساس ارزیابي کیږي، تر څو ښځې وکولای شي، چې خپل ځای او مقام په ټولنه کې د نارینه وو سره یو ځای پیدا کړي. ښځه او نارینه د دغو علمي، اخلاقي او فرهنګي خصایلو او اوصافو په وسیله کولای شي، چې د ټولنې د ودې او پرمختګ په ټولنیزو چارو کې د خپلو حقوقو او آزادۍ د لاسته راوړنو لپاره یو ځای خپلې مبارزې ته ادامه ورکړي.

زموږ په افغاني ټولنه کې ښځه هغه ټولنیز ځواک دی، چې د تاریخ په اوږدو کې د نارینه وو ترڅنګ یې نه یوازې د خپلې بشري ټولنې د ودې او پرمختیا لپاره خپل اغیزمند ګامونه اوچت کړي دي، همدا راز یې زموږ په ټولنه کې د یوې درنې او قدرمنې مور په توګه د خپلې مهربانې، خواخوږې، پیرزوینې، پاک او سپیڅلي احساساتو په درلودلو سره د خپلو اولادونو په روزنو او پالنو کې یې ستر رول لوبولی دی.

د تاریخ په اوږدو کې زموږ په هیواد کې قهرمانو ښځو د خپل ذاتي استعداد، لیاقت، پوهې، علم او شجاعت په وسیله یې د ظلم، ستم، بې عدالتي او تو تریخوالي پرضد او د خپلو حقوقو د لاسته راوړنو لپاره یې عادلانه او برحقه مبارزې ته ادامه ورکړې ده، او د ټولنې په منځ کې یې خپل موقف او مقام په ډیر عالي کچه ساتلی دی.

له بده مرغه زموږ د هیواد په وروسته پاتې ټولنه کې میرمنې د خپلو اساسي حقوقو نه بې برخې دي، خو بیا هم زموږ د هیواد زیاترو میرمنو په اجتماعي،

اقتصادي، سياسي، علمي، ادبي او فرهنګي برخوکې په خپل توان، استعداد اولياقت سره دخپلو خلکو او وطنوالو لپاره د ستايني وړ خدمتونه ترسره کړي دي.

يوه له دغو فعالو بااستعدادو ادبي اوفرهنګي ميرمنو څخه آغلې سهيلا اصغري ده. نوموړې زموږ دپښتو ادب هغه خوږژبې، تکړه اوبا احساسه ويانده ده، چې د خپل استعداد ، لياقت، ادبي او فرهنګي هلو ځلو په وسيله يې زموږ د پښتو ادب ښکلی او رنګين ساتلی دی. سهيلا اصغري نه يوازې دپښتو ادب يوه خوږژبې ويانده ده بلکې په دري ژبه هم نطاقي کوي. په هغه وخت کې، چې دې په راديو تلويزون کې کارکاوه او په بيلابيلو برنامو کې يې نطاقي کوله، او د يو شميروتليواو نامتوشاعرانو شعرونه يې دکلمې کول، او اوس هم، چې په يو شمير خپرونوکې نطاقي او دکلمې کوي، زموږ دهيوادوالواوريدونکوپه زړونواو ذهنونوکې مينه، محبت، شور، هيجان اواحساسات راپاروي. هغه علمي او ادبي مطالب، چې د دې په خوږه ژبه بيانيږي دقدر اوستايني وړ دي، او د اوريدونکوپه ذهني او رواني حالاتو کې يو معنوي کيفيت، تصور او خيال راپاروي.

د آغلې سهيلا اصغري د پوره پيژنګلوی لپاره ما د دې سره يوه ادبي مرکه جوړه کړې ده، هيله منديم، چې زموږ درانه لوستونکي او د ادب مينه وال دا مرکه له پامه ونه غورځوي.

آغلې سهيلا اصغري زما سلامونه اونيکې هيلې ومنې، اجازه راکړی، چې خپلې پوښتنې پيل کړم.

پوښتنه: مهرباني وکړی دخپلو زده کړو او ادبي هڅو په هکله معلومات راکړی؟

ځواب: لومړنۍ زده کړې مې د پکتيا په غرونو، د ګرديز د نجونو په ښوونځي کې پيل کړې. بيا مې د خوست د نجونو په ښوونځي او د عايشې دراني په ليسه کې پر مخ بوتلې او د زرغونې په ليسه کې مې پايته ورسولې. د ښوونځي د زده کړو سره

جوخت مې ژورنالیستیک کار ته هم مخه کړه او بیا د ژورنالیزم پوهنځي هم زما په مسلکي کولو کې راته قباله لاسلیک کړه. زه لا هم په حیراني کې یم، چې دا د خوښۍ کلونه څومره زر له لاسه ولاړل. زه لا په تیرو وختونو کې ساه باسم. له هغو دوستانو سره د خوښېو په ورځو کې یم، چې زړونه یې په زرګونو هیلو پسې وو، که څه هم امکانات ډېر لږ وو، خو یوه دنیا سپیڅلتوب وو او حرمت. د هغو کلونو په یاد لکه آموا وښکې بهوم.

پوښتنه: ستاسونوم دیوې خوږژبې ، تکړه او بااستعداده ویاندې په لقب مزین دی. مهرباني وکړی راته وواياست، له کومه وخته مو په نطاقۍ پیل وکړ، او کومې مینې او علاقې تاسو دغې مسلک ته وهڅولې؟

ځواب: که په ساده ډول ووايم، مینه مې پیدا شوه، جرأت مې وکړ او مراجعه مې وکړه، په ویاندۍ کې مې نیمګړتیاوې اصلاح کړې. هماغه وو، چې ومنل شوم. کیسه داسې وه، چې مسؤلین په لومړنۍ آزموینه کې په دې قانع نه شول، چې وکولای شم ویاندويي وکړم. راته وویل شول، چې لهجه لرم. زه په کور کې په یوه لهجه غږیدم، دا، چې په ښوونځي کې مو هم د بیلابیلو لهجو ښوونکي لرل، نو ګډه وډه لهجه مې درلوده. هماغه وو، چې ځان مې ځانته آیینه کړ او هڅه مې وکړه څو اوبه شم او روانه شم، غړ شم او تیره شم. په یاد مې دي، چې په ورځو ورځو مې اخبارونه په جګ آواز لوستل او په تیپ ریکاردر کې مې ثبتول او بیا مې اوریدل او د نورو ویاندویانو د لوستلو له بڼې سره مې پرتله کول، او د نیمګړتیاوو سمون ته مې ملا تړله. هماغه وو، چې په ځینو خپرونو کې مې د وړې برخې اخیستنې چانس وموند ترڅو، چې څانګه ګل شوه او لږه موده وروسته مې د آواز د مجلې په یوه نظر غوښتنه کې د تکړه نطاقۍ لقب د ترلاسه کړ.

پوښتنه: کیدای شي وپوښتم، چې چا دې لاره ته وهڅولې او لومړنی چانس مو په کومه خپرونه کې تر لاسه کړ؟

ځواب: که رښتیا ووایم، لومړنی هڅوونکې په خپله وم. خو کله، چې مې په کار پیل وکړ نو لومړنی هڅوونکې مې پلار وو او بیا ټول دوستان او همکاران. په تیره بیا پخوانیو همکارانو هڅولم او خپله تجربه او پوهه یې له ما نه سپموله.

پوښتنه: هغه وخت، چې تاسو په نطاقۍ پیل وکړ، آیا تاسو ته په خپل چم او ګاونډ کې د شرایطو امکانات موجود وه او که نه؟

ځواب: له راډیو او تلویزیون سره زما کار په داسې وخت کې پیل شو، چې تلویزیون او تلویزیونی خپرونو نوی افغانستان ته لاره موندلې وه. تلویزیون خلکو ته نوی وو او نطاقان غوره څیرې. ماحول لا له تلویزیون سره آشنا نه وو. ډیري کسانو ته په تلویزیون کې کار کول غوره نه برېښیدل. امکانات په بې تجربه ګۍ کې وو. په راډیو کې د همکارانو پوهه ډیره وه خو تلویزیون په افغانستان کې یوه لا نه پیژندل شوې پدیده وه. په دې لحاظ موږ، د هغه وخت د تلویزیون نطاقان، د بیدیا د بوټو په څیر شنه شوو، وده مو وکړه او وغوړیدو.

پوښتنه: ستاسو د هغه وخت کار د راډیو او تلویزیون له کومو خپرونو سره تړاو درلود؟ آیا خپرونې مو په خپله غوره کولې او که څنګه؟

ځواب: زما کار له تلویزیون څخه پیل شو. معمول داسې وو، چې لومړی باید یو نطاق په راډیو کې پوخوالي ته رسیدلی وای یا یې لږ تر لږه په میکروفون حاکمیت موندلی وای. زما کار په تلویزیون کې له کوچنیو انانسونو څخه پیل شو او د روزنې د اداري لخوا به راته ویل کیدل، چې څه وخت د کومې خپرونې لپاره تیاری ونیسم. خو د نطاقانو د مدیر محترم، درانه «ګلشاه محرابي» په لارښوونه او ټینګتیو مې د

راډیو په خپرونو کې هم برخه واخیسته او لومړنۍ خپرونې مې د «ستاسې خوښې کړې سندرې» وې، چې په ژوندۍ بڼه خپریدې. او وروسته مې بیا ځانګړې خپرونې درلودې لکه: «ذهنی مسابقه»، د «هنر بلې ډیوې»، د «ځوانانو خپرونه»، د «ترانه ها و سخن ها» خپرونه، د «ساعتی با شما» خپرونه، د «شومدم انګازې» د شپې او ورځې خبرونه او په خاصو مناسبتونو خپرونې لکه اخترونه او نوی کال او بیلابیلې نورې خپرونې.

پوښتنه: دلومړي ځل لپاره، چې تاسو نطاقي پیل کړه او خپل آواز مو له راديو او تلویزون په څپو کې واوریده، کوم احساس تاسو ته پیدا شو؟

ځواب: که رښتیا رانه وپوښتې نو باور مې رانغی، چې زه به وم. له دې امله د پردیتوب احساس وو. زما ترډیره دی ته پام اوښتی وو، چې سم مې لوستی که نه. تر څو په دی پوهیدم نو خپرونه تیره وه.

پوښتنه: ستاسو په آند د لومړي ځل لپاره دکومې ښځینه ویاندې په غږ د راډیو افغانستان خپرونې ښایسته شوې؟ او دکوموویاندویانو نطاقي مو خوښیږي؟

ځواب: کله چې ما په راډیو او تلویزیون کې په کار پیل وکړ، ډیرې تکړه نطاقانې، چې ما یې لیدو ته تلوسه درلوده، نور په راډیو کې نه وې. خوخومره ،چې زه معلومات لرم، «لطیفه کبیر سراج» زموږ تر ټولو پخوانۍ نطاقه ده. هغه وخت، چې زما د کار له پیل نه لا ډیره موده نه کیده، د ښځو د نړیوالې ورځې په مناسبت د ښځو خپرونې ته غوره میرمنې رابلل شوې وې. د هغو په ډله کې میرمن «لطیفه کبیر سراج» هم وه. ما او «شفیقې حبیبی»، (چې یوه تکړه نطاقه ده)، خپرونه پر مخ بیوله. او ما په ډیر ویاړ له میرمن «سراج» سره خبری او مرکې وکړې. دې راته د کار د پیل خاطرې یادې کړې، چې راته ډیرې په زړه پورې وې.

زمونږ د هغه وخت ټول نطاقان په رښتیا ، چې تکړه او د استعداد خاوندان وو. دوی لکه د خود رویه ګلانو په څیر د خپل استعداد په عطر اوریدونکو ته مشک او عنبر وړاندې کول. د هر نطاق کار، چې لږ او ډیر په هنر ښکلی شوی وي، زما خوښ دی. لکه: «سیف الرحمن سهی ابراهیم خیل» ، «جان الکوزی» او نور......

پوښتنه: نطاقي، چې د ښځو او نجونو لپاره یوه ښکلې او درنه دنده ده، تاسو د یوې ویاندې په توګه د ښځو او نجونو ونډه په نطاقي کې څرنګه ارزوې؟

ځواب: تاسو خپله ورته ځواب ووایه. نطاقي ښځه او نارینه نه لری د دواړو لپاره یو شان ده. یو غږ به په راډیو کې ډیر وچ وي او زړه تنګوونکی.

پوښتنه: ستاسو غږ، شعرونو ته لا ښکلا ښښي، دیوې خوږژبې دیکلیماتورې په توګه مو د کومو شاعرانو شعرونه دکلمه کړي دي، او په دې کې خپل کمال په څه کې وینې؟ دا هم ووایاست ، چې ولې په دې وروستیو کلونو کې ستاسو آواز د رادیو او تلویزون له څپو څخه نه اوریدل کیږي؟

ځواب: ما د مختلفو شاعرانو شعرونه دیکلمه کړي، خو زیات مې د خوشحال بابا ، رحمان بابا ، غنی خان، امیر حمزه شینواري، وهاب سرتیر، عبدالباري جهانی، اسحق ننګیال او نورو شاعرانو شعرونه په مینه دیکلمه کړي دي. خو کمال زما نه، بلکې د دیکلماتورۍ، په دې کې دی، چې، شعر د شاعر په احساس دیکلمه شي او دا هغه وخت امکان لري، چې شعر او د شاعر احساس لومړی درک شي.

وروستی کلونه زما له کارونو ډک کلونه دي. په بیلابیلو راډیوګانو لکه: د آزادۍ راډیو او دویچې ویلې راډیو ، په آلمان کې د آریانا نړیوال تلویزیون، له امریکې نه د آریانا افغانستان تلویزیون او په افغانی ټولنو کې بیلابیل پروګرامونه او په ملي تلویزیون کې په ځانګړو مناسبتونو خپرونې او انترنیتی پاڼې. یوائې د مهاجرت لومړي کلونه وو ، چې د ماشومانو په روزنه اخته وم او لاس مې کار ته نه رسیده. که

څه هم، چې په هغه وختونو کې مې هم په بیلابیلو افغاني کنسرتونو کې انانسري کړېده.

## یادونه:

داغلې سهیلا اصغري په غږ کې د کلمه شوي شعرونو په دغه پته کې وګورئ:

http://www.vatandar.at/Qadermasod1.html

پوښتنه: د خپلو همکارانو په هکله څه فکر کوئ، او په ځانګړي توګه د کومو ویاندویانو د کلمه غوره او په زړه پوری بولې؟

ځواب: د همکارانو په اړه مې نظر وړاندی کړ. زموږ وتلي دیکلماتوران هغه دي، چې شعر او د شاعر احساس درک کړي او په خپل فن، هنر او غږ ورته نوره ښکلا هم وبښي، او د شاعر احساس، په دې ډول اوریدونکي او د شعر خوښوونکي ته ورسوي. د دغو دیکلماتورانو شمیر ډیر دی، چې زه تری د ښاغلي ابراهیم خیل، جان الکوزي، تورپیکی سنګین، فریدې انوری، عبدالله شادان او ثریا صدیقی، نبیلې همایون، رشیدی آمو نومونه اخیستلی شم.

پوښتنه: ستاسو په نظر نطاقي ته کوم تعریف ټاکلی شو، د یوې خپرونې د چلوونکي او نطاق یا ویاند توپیر په څه کی دی؟ او دا هم ووایاست، چې په نطاقي کې له کومو سلیقو او مسلکي ځانګړنو څخه باید استفاده وشي؟

ځواب: نطاقي د پیغام رسول دي. نطاقي، په عمومی تعریف، د استعداد، غږ، سواد، آفاقي معلوماتو او جرأت ټولګه ده. د دې ټولو ځیزونو درلودل نطاق جوړوي. دا هم باید ووایم، چې د دې ټولو لرل یو خوا، خو د هغو موندل په خپل وجود کې له بلی خوا نطاق جوړوي. د استعداد صیقل او د پوهې وده کولای شي نطاق مقصد ته ورسوي.

نطاق هغه څوک دی، چې د یو مطلب او خبر د پانې له مخې اوریدونکي او لیدونکي ته لولي او د اړیکی د موندلو له لارې یې په لازمه بڼه ورته رسوي.
چلوونکي یا مودراتور، اکثراً «شومن» دي، چې له کاغذ پرته د لیدونکي او اوریدونکي سره په تماس کې وي، او پیغام د مکالمې په ډول رسوي ، چې دا خپله د یوه نطاق سلیقه او مسلکي ځانګړنه ده. یو ښوونکی هم یو مودراتور دی. دغه راز په بازارونو کې چې څوک متاع خرڅوي هم یو مودراتور دی او نور... په یوه مسلکي کنفرانس کې هم مودراتور دی، چې کنفرانس چلوي. خو د ټلویزیوني او راډیویي مودراتور سلیقه تر ډیره هنري ده.

پوښتنه: ستاسو په نظر په نطاقي کې د مسلکي کورسونو تعقیبول دیو ویاند په توانمندي باندې څه اغیز لري؟

ځواب: په مسلکي کورسونو کې نطاق روزل کیږي، پخیږي په فنونو پوهیږي او د نطاقی تعریف په واقعي بڼه په ځان تطبیقولی شي. خو درویه ګل که ګل هم دی، په پالنه لا تازه کیږي. په مسلکي کورسونو کې د نطاق استعداد صیقل کیږي او ریښتینی ځلا یې زړونه روښانوي.

پوښتنه: یو ویاند یا نطاق باید کوموژورنالیستیکي اصولو او مقرراتو ته پاملرنه وکړي؟

ځواب: نطاق او یا ویاند باید هڅه وکړي، چې د پیغام له اخیستونکي سره اړیکی ټینګې کړي، او بی پلوه پاتی شي. پیغام په هغه ډول ،چې دی، اخیستونکي ته ورسوي. په ژورنالیستیکو ژانرونو کې د خپل نظر شریکول، نه د نطاق او نه هم د ژورنالیست کار دی.

پوښتنه: په هیواد کې دننه او بهر یو شمیر رادیویي او تلویزوني خپرونې او پروګرامونه په ډیره ټیټه کچه خپریږي، او یو شمیر نطاقان او د پروګرامونو پر مخ

وړونکي د مختلفو برنامو سره بوخت دي، چې د پوره سواد خاوندان نه دي، تاسو د یوې تکړې او با تجربې ویاندې په توګه دا نیمګړتیاوې څرنګه څیړې؟

ځواب: په ژورنالیزم کې یو شی له نورو مسلکونو توپیر لري، هغه دا ، چې که څوک وغواړي، په دې لاره کې له لوړو زده کړو پرته هم د ژورنالیستیک کار اجازه لري. خو دا په دې معنا نه ده، چې سړی دې له استعداد او پوهې پرته په دې لار ګام کیږدي. په نوي ژورنالیزم کې نطاق یوازې نطاق نه دی. پخوا به نطاق هغه څه لوستل، چې ورته ورکول کیدل او د هغه وخت نطاق زما له نظره تر ډیره یو هنرمند وو. د نن ورځې نطاق باید سل په سلو کې په ژورنالیستیکه پوهه سمبال وي. د ننې ژورنالیزم نطاق، خپله موضوع جوړوي، لیکي یې، او اوریدونکي او یا لیدونکي ته یې وړاندې کوي. اکثراً یې تخنیکي چارې هم په خپله سر ته رسوي. په وروستیو کلونو کې د کمپیوتر او انترنیت له ودې سره د رسنیو کار آسانه شوی او د نړۍ په کچه امکانات زیات شویدي. له رسنیو سره مینه له پخوا څخه د خلکو په زړونو کې زیاته ده. په پیښنو ځان خبرول او نورو ته د پیښنو بیانول او دغه راز د کلتور او هنر سره مینه د انسان خاصه ده. په همدې لحاظ ډیر کسان په دې لاره کې په هڅو بوخت دي. زه، رسنۍ (راډیو ، ټلویزیون، سینما ، ورځپاڼې او مجلې او انترنیت) د ټولنې په پوهاوي کې د عمده وسلې په توګه شمیرم. نو له دې امله، کله، چې له مسلکي لحاظه نیمګړې خپرونې اورم او یا وینم او لولم، نو خواشینې کیږم. همدا رسنۍ دي، چې د خلکو د اذهانو په روښانولو او د نړۍ له نوښتونو څخه د دوی په خبرولو کې ستر رول لري. نو که دا کار په مسلکي ډول تر سره نه شي، د ژورنالیزم اصلي دنده به هم نیمګړې پاتې شي.

پوښتنه: مهرباني وکړې د خپل ادبي او فرهنګي ژوند خوږې او ترخې خاطرې را سره شریکې کړی؟

ځواب: زما د فرهنګي او ادبي ژوند خوږې خاطرې، زما پرمختګ دی، په دې لاره کې. په هر قدم کې د دوستانو تقدیر او هڅونې زما په کار مثبت اغیز کړی او هره شیبه زما د ژوند له دغو خاطرو څخه ډکه ده. ترخه خاطره مې هغه وه، چې د اوښکو د ستورو په بهولو مې وطن تیارې ته پرېښود او په وس کې مې څه نه وو.

پوښتنه: تر هغه ځایه ، چې زه خبر یم تاسو په دغو آخرو وختونو کې زموږ ګران هیواد ته سفر درلود ، مهرباني وکړی د خپلو ادبي او فرهنګي مرستو او فعالیتونو په هکله خپل نظر را سره شریک کړی؟

ځواب: بلی، زه تیر اوړی بیا په خپله مېنه کې وم. زه په خپلو خلکو نوره هم مینه شوم او د وطن خاوری، نوره مینه هم زما په روح او روان باندی وشیندله. ما له خپلو خلکو سره ولیدل، د رسنیو له استازو سره مې ولیدل، له ژورنالیستیکو کړیو سره مې ولیدل او له ځینو ټلویزیونونو څخه مې لیدنه وکړه، چې ور ویې بللم. ما له ملي راډیو ټلویزیون څخه لیدنه وکړه او د دغی رسنۍ له نطاقانو سره مې ولیدل. په ملي راډیو ټلویزیون کې مې د نطاقانو لپاره یو ورکشاپ جوړ کړ او د مدرنې نطاقۍ او ویاندویۍ چارې مې په مسلکي ډول دوی ته وروښودی، چې د دوی لپاره ډیر په زړه پورې وو.

دغه راز مې له ځینو روغتونونو او کلینیکونو څخه هم لیدنه وکړه او یو تصویر مې واخیست، چې په راتلونکي کې څه ډول مرستی ورسره وشي.

پوښتنه: تر هغه ځایه، چې زه خبر یم ستاسو خاوند ډاکتر صاحب (سید احمد فرید حسرت نظیمی) په آلمان کې په طبي فعالیت بوخت دی او تاسو هم ورسره مرسته کوی، مهرباني وکړی په دې هکله یو څه مالومات را کړی؟

ځواب: زما د ژوند ملګری ډاکټر فرید د آلمان په هیواد کې د عمومي طب ډاکټر دی او خپل شخصي کلینیک لري، چې زه یې د منجمنت چارې پر مخ بیایم. دی په دې

کلینیک کې، چې اکثر مراجعین یې آلمانان دي، د عمومي امراضو د ناروغانو درملنه کوي. دغه راز د چینایي طبابت یا ستنی وهلو څخه هم د ناروغانو په درملنه کې کار اخلي. ده په آلمان کې د عمومي طبابت تخصص ترلاسه کړی، په څنګ کې یې د ستنی وهلو، رواني ناروغیو، عاجلو پیښو او طبیعی طبابت په کوالیفیکشن هم ځان سمبال کړی دی. موږ د هغې مینې له مخې، چې له خپلو افغانو وطنوالو سره یې لرو، تر ډیره هڅه کوو، چې د دوی په خدمت کې واوسو. په دې منظور د «پیام افغان» د ټلویزیون له لارې هم د خپلو وطنوالو لپاره د «طبی مشورو» یوه خپرونه لرو، چې هره چارشنبی د دغه ټلویزیون له لاری خپریږي، او زموږ د وطنوالو پوښتنو ته ځوابونه پکې ویل کیږي او د دوی ستونزو ته سلامشوری ورکول کیږي.

پوښتنه: په هیواد کې دننه او بهر ستاسو پیغام دیوه ادبي او فرهنګي شخصیت په توګه دژورنالیستانو ټولنو ته څه دی؟

ځواب: له نیکه مرغه د هیواد په دننه کې ګڼ شمیر مؤسسی د بهرنیو هیوادونو له خوا جوړې شوي، چې ځوانانو ته ژورنالیستیکي لارې چارې ښیي. دغه راز په افغانستان کې د ژورنالیستانو دوی سراسري اتحادیې په فعالیت بوختې دي. د کابل پوهنتون د ژورنالیزم پوهنځی او ځینی نور شخصي پوهنتونونه هم ژورنالیستان روزي. دغه ټول بنسټونه د ژورنالیستانو په روزلو کې برخه اخلي. له دوی ټولو څخه زما هیله داده، چې په پراخه وطني مینه د نوي او مدرن ژورنالیزم زده کړه دوی ته ورکړی. یعنی داسې ژورنالیست وروزي، چې د واقعیت ویل یې د ژورنالیزم پر اصولو ولاړ وي، په لیکنو او ژورنالیستیکو کارونو کې یې د چا تحقیر او سپکاوی دخیل نه وي، او د خلکو دردونه او ستونزې رابرسیره کړي او د حل د لارو چارو په لټونه کې یې هڅې وکړي.

دغه راز مې د ژورنالیستانو له اتحادیو څخه غوښتنه داده، چې د ژورنالیستانو د حقونو په ساتلو کې هیڅ راز هڅې ونه سپموي.

پوښتنه: په هیواد کې د ننه او بهر د جګړې او داوسنیو کړکیچنو او تراژیکو حالاتو اغیز پر ادبي او فرهنګي وضع څرنګه څیرې؟

ځواب: د هرې ټولنی فرهنګ او کلتور د هغې له سیاسي بهیر سره جوخت حرکت کوي. د سولی او آرامی فضا، فرهنګ او ادب صیقلوي او د لا ښکلا لپاره یې زمینه برابروي، په داسې حال کې، چې کړکیچن حالات پری د وهم او الم پرده غوړوي، او د ودې مخه یې نیسي. که موږ د افغانستان تأریخ ته نظر واچوو، هرکله، چې افغانستان په جګړو کې ښکیل دی، او اقتصادي زیربنا یې ګډه وډه او یا له منځه تللی، نو روبنايي حالت یې هم تر سخت اغیز لاندی راغلی. له همدی امله په افغانستان کې بیسوادي تر څو کلونو مخکی عادی خبره وه. همدا، چې تاسو مخکی و پوښتل، په رسنیو کې د خپرونو د پرمخ بیوونکو د پوهې سطحه ټیټه ده، نو دا د همدې کړکیچنو حالاتو پایله ده.

پوښتنه: تاسو دیوې روښنفکرې میرمنې په توګه زموږ په هیواد کې دژوند په سیاسي اجتماعي، اقتصادي، ادبي او فرهنګي ډګر کې دښځو مقام او منزلت څه ډول ارزوې؟

ځواب: افغانستان یوه جګړه ځپلی ټولنه ده، چې د جګړې پاتی شونی یې کونډې او یتیمان او معیوب نارینه دي. جګړې، له رواني لحاظه هم افغان وګړي له سختو ستونزو سره مخامخ کړي دي.

پوښتنه: دادبي اوفرهنګي ژانرونو او دډلیزو رسنیو اغیز او نقش دښځو په وړاندې دتاوتریخوالي او ترهګرې په له منځه وړلو کې څه ډول څیرې؟

ځواب: زما په نظر ډله ایزې رسنۍ د خلکو د اذهانو د روښانولو تر ټولو ښه وسیله ده. له دې لارې د انسان د کرامت او د انسان د حق ښودل هغو کسانو ته ، چې لا ورسره په لازم ډول آشنايي نه لري، په ښه توګه په ګوته کیدلای شي. خو که له سمو اصولو څخه کار وا خیستل شي. زه د دې پلوۍ نه یم، چې په داسې یو هیواد لکه افغانستان کې دی، په خاصه توګه د ښځو په وړاندې د تاو تریخوالي په باب خبرې وشي. زما په نظر که انساني حقونو ته پام وشي، نو د ښځو حق به هم ادا شوی وي او د ښځو په وړاندی تاو تریخوالی به هم له منځه تللی وي.

پوښتنه: ستاسو پیغام هغو ښځو ته، چې په هیواد کې دننه په ډیرو غمجنو ، تراژیکو او کړکیچنو حالاتو کې ژوند کوي څه دی او دژغورلو لاره یې په څه کې وینې؟

ځواب: زه، هر انسان ته د زده کړی او تحصیل سپارښتنه کوم. د افغانستان په شرایطو کې دغه زمینه په پراخه توګه ټولو ته نه ده مساعده. یعنی، یو خو د جګړو او نآرامیو له کبله په موجودو ښوونځیو کې زده کړې له خنډونو سره مخامخ کیږي، او بل بیا په ټولو سیمو کې د ښوونځیو نشتوالی د زده کړی پروسه نیمګړی کوي. خو که خپله غوښتنه پیاوړی وي، نو سواد او زده کړه ترلاسه کیدای شي. زما پیغام زما د وطن ګرانو خویندو ته تر ټولو مخکی دادی، چې دوی په هره ممکنه بڼه د سواد او زده کړې لاسته راوړو ته ملا وتړي. ځکه دا هغه معقوله لاره ده، چې د بچیانو په روزلو کې له دوی سره سمه مرسته کولای شي، او د ژوند په چارو کې دوی ته لارښوونه کولای شي. بی سواده انسان ړوند دی او زموږ خویندی باید ړندې ونه اوسي.

آغلې سهیلا اصغري ستاسو نه دزړه له کومې مننه کوم، چې زما پوښتنو ته مو د قناعت وړ ځوابونه وړاندې کړل، تاسو ته د لا ډیرو بریاوو په هیله.

**له تاسو څخه هم مننه.**

**په ډېره ادبي مينه او درنښت: انجنير عبدالقادر مسعود**